# د لایق صاحب د زوکړې پنځه اویایمې کالیزې په ویاړ

زموږ د هېواد له هسکو غرونو او دنګو تږو څخه چې څومره د لایق د غږ انګازې د نړۍ تر لرې څنډو رسېدلې دي، هومره د بل غـږ نه دي رسېدلې. د شعر ژبه یې خوږې سمفونۍ ته ورته ده چې هر ځانګړې آلې په توګه غږېږي او سږی افسونوي. که چېرې د لایق شخصیت د هغه په شعرونو او آثاروکې ولټو، نو هرومرو به د هغه د تفکر په مزدکۍ کې د یو سیېځلي انسان، د ښکلا پېژندنې په فلسفه کې د یو فیلسوف، د تخیل او انځورونو په نړۍ کې د یو ځواکمن انځورګر، او د ویینو په سمندرکې د یو ازمویلي ماڼو په توګه بیا مومو. هغه یوازې د وخت چیغه زموږ تر غوږونو نه ده رارسولې بلکې هغه ناره یې هم رااورولې ده چې سوونه کاله پخوا د تاریخ په سینه کې ویده شوې ده.

د لایق فکري سیستم له انسان سره د مینې پر محور څرخېږي. لایق یو ژمن متفکر او زموږ د نني پېر او تاریخ نه ستومانېدونکې مبارز دی. د خپل ژوند بهترین کلونه یې د هغه چا د آزادۍ لپاره په مبارزه کې تېر کړي دي چې ټولنیزو بې عدالتیو له خپل انساني ارزښت او وړتیا څخه جلا کړی او بې برخه کړی دی.

لایق د خپل شعر په ټول عمرکې وګړپال او هیومنست شاعر پاتې شوی دی. قلم یې تېره او ژبه یې رښتونې ده. که له یوې خوا د زورواکي او خپل سري نظام په کرکه غندنه کوي، خو له بلې خوا رنځګالونکې هم په دې ګرموي چې له یوه داسې کرکوږ نظام څخه د ژغورنې لپاره بلهارېدنه له هغه ژوند نه خورا ویاړلې ده چې د مریېتوب تر سیوري لاندې په ذلت او خوارۍ کې تېرېږي.

لایق هغه څوګ دی چې د پرونیو اسطورو له مینځ څخه راولاړ شو او ننیو پنځونو ته یې مټې رانغښتې دي. په آثاروکې یې د لوړې کچې هغه انساني اندېښنې لوستل کېږي چې د المساو په شان غوځنده او د کرستلو په څېر رڼې دي.

لایق وایي: زموږ راتلونکې نسلونه به یوه ورځ په دې وپوهېږي چې موږ څوګ وو او څه هیلې مو درلودلې. دښمنان ولې زموږ د ارمانونو په وړاندې وجنګېدل او د رڼا پر لوریې زموږ د وړاندې تګ مخه ولې راډب کړه. موږ به نه یو، خو زموږ غږ به د تاریخ په غوږونوکې د تل لپاره انګازې وکړي.

د لایق صاحب د اندوژوند، ایدیالونو او شعري سبک په وړاندې بیلابیل اشخاص بیلابیل غبرګونونه څرګندوي. ځینې د بغض او کینې هغه غندي، ځینې یې د یو روښاندي منفکر په توګه چې خپل ټول عمر یې له جهالت او تاریکی سره په جنګ جګړه تېر کړی دی، ستایي. او ځینې نور له ایدالوژیکي مخالفتونو سره سره د هغه له شعري ځواکمنتیا څخه سترګې نه پټوي. د لایق صاحب ستاینه یا غندنه یو اخلاقي کار دی، او په نهایت کې د هر چا په فردي وجدان پورې اړه لري، خو حقیقت دا دی چې لایق زموږ د وخت او مهال ستر سړی دی.